# ماشومانو مقدس کتاب

## وړاندې کونکے

# يونس او غټ

# کب



لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Jonathan Hay
Alastair Paterson

خوښونکے: Mary-Anne S.

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددگار: Bible for Children
www.M1914.org

©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نۀ شئ.

ډېر کالونه مخکښې، يونس نومې يو سړے
د اسرائيل په ملک کښې اوسېدو. يوه ورځ،
خدائ هغهٔ ته ووئيل چې د دنيا د
ټولو نه لوئ او زبردست
ښار نينوه ته لاړ
شه.



یونس له د هغه ځای خلق خبرداره
کول وو. چې خدایٔ ستاسو د بدیٔ
نه خبر دے.



یونس د خدائ نافرمانی وکړی! نینوه
ته د تلو په ځائ، یونس په جهاز کښې
ترسیس نومې ځائ ته لاړو.



مالک خدائ په سمندر کښې لوئ طوفان راوستلو. یو
ډېر لوئ طوفان وو! ماڼکیان یرېدل چې هسې نه جهاز
ډوب شی.



طوفان نور هم زیاتېدو. یرېدونکو ماڼکیانو د خپلو معبودانو
نه دعا وغوښته او د جهاز سپکولو د پاره ئې خپل ټول
سامان اوبو ته وغورزولو. خو هیڅ هم ونهٔ شول.



يونس په جهاز کښې واحد سړے وو چې دعا ئې نۀ کوله. د دې په ځائ هغه په جهاز کښې اودۀ وو. د جهاز مشر هغه ولېدو او وې وئيل، تۀ ولې اودۀ ئې؟ پاڅه خپل معبود له آواز ورکړه. کېدے شی چې هغه مونږ ياد کړی او مرګ نه بچ شو.



ماڼکیانو زر فېصله وکړه چې د دې مصیبت تعلق یونس سره دے. هغۀ هغوئ ته ووئیل چې د خدائ نه تېښتی. هغوئ ترې تپوس وکړو، مونږ تا سره څۀ وکړو چې د سمندر طوفان زمونږ د پاره قلار شی؟ یونس جواب ورکړو، ما اوچت کړئ او سمندر ته مې وغورزئ. ځکه چې ما ته پته ده چې دا لوئ طوفان زما په وجه راغلے دے.





ماڼکیانو نهٔ غوښتل چې
یونس مړ کړی. هغوئ
کوشش وکړو چې جهاز
اوچې ته راولی. خو
داسې ئې ونهٔ کړے
شول. داسې کولو
د پاره صرف
یو ځېز وو.

د بخښنې د پاره دعا نه پس، ماښکیانو یونس اوچت کړو او سمندر ته ئې وغورزولو.
چې څنګه یونس د اوبو په چپو کښې پټ شو، نو سمندر قلار شو او هوا اودرېده. د حالاتو بدلېدو سره ماښکیان د طوفان نه زیات په دې خبره یره کښې شو. هغوئ له دا پیژندل پکار وو چې صرف خدائ داسې کولے شی. په یره او حېرانتیا کښې هغوئ د خدائ عبادت وکړو.



په دې دوران کښې د
نافرمانه رسول سره
ډېره عجيبه واقعه
وشوه. د سمندر په
چپو کښې ډوبېدو، او
یونس ته پته وه چې
هیڅوک ئې نهٔ شی بچ
کولے. هغه به
ډوبیږی خو د خدایٔ
منصوبه بل څهٔ وه.



خدای یو غټ کب تیار کړے وو چې یونس تېر کړی.
کب په صحیح وخت راغلو! هغه غټ کب یونس تېر کړو.
یونس تر درېوو ورځو پورې د کب په
ګېډه کښے وو. هغۀ سره د سوچ او دعا
د پاره ډېر وخت وو.



درې ورځې پس یونس آخر د خدائ د تابعدارۍ کولو وعده وکړه. هم هغه وخت، خدائ کب سره خبرې وکړې، او کب یونس په اوچه ولټۀ کړو.



يو ځل بيا خداۍ يونس ته ووئيل چې نينوه ته لاړ شه
او د خداۍ د کلام پېغام ورسوه. دا ځل يونس لاړو.
يونس په چغو چغو ښار ته داخل شو، په څلوېښتو
ورځو کښې به نينوه ختمه کړے شی.



د نینوه خلقو د خدایۀ په کلام ایمان راوړو. هغوئ روژه ونیوله او د خپلو ګناهونو د بخښنې د پاره ئې د ټاټ جامې واغوستې. تر دې چې بادشاه هم د خدایۀ په وړاندې خپل ځان عاجز کړو. هغه د خپل تخت نه کوز شو، د ټاټ جامې ئې واچولې او په خاورو کښې کښېناستو. هغۀ حکم وکړو چې هر څوک دې د خپلو بدعملو نه راوګرځی او د



بخښنې د پاره دې د خدایۀ نه دعا وغواړی.

خدایٔ هغویٔ معاف کړل! دا به په نینوه کښې د خوشحالئ نه ډکه ورځ وه چې کله خلقو ته معلومه شوې وی چې خدایٔ هغویٔ معاف کړل.



یونس ولې خفه وو؟ هغهٔ خدایٔ ته ووئیل، ما ته پته ده چې
تهٔ رحیم او مهربان خدایٔ ئې، زر نهٔ غصه کیږې. په غصه
کښې په قلاره او مینه کښې غنی ئې او عذاب نهٔ نازلوې. په
نورو الفاظو کښې، یونس ته پته وه
چې خدایٔ همېشه هغوئ معاف
کوی چې د خپلو ګناهونو نه
معافی غواړی او د خدایٔ د
کلام تابعداری کوی. داسې
ښکارېدل چې د یونس د نینوه
خلق خوښ نهٔ شول. هغهٔ نهٔ
غوښتل چې هغوئ معاف شی.



یونس د خدایٔ نه دومره خفه وو چې وئيل ئې، ما مړه کړه، ځکه چې زما د دې ژوند نه مرګ بهتر دے.



یونس د ښار نه بهر کښېناستو، دا انتظار ئې کولو چې خدائ به مخکښې څهٔ کوی. خدائ د غټو پاڼو واله یو بوټے تیار کړو. ډېر زر راغټ شو، او ټوله ورځ ئې یونس د نمر نه بچ کړو.



بله ورځ سحر خدائ یو جینجے راولیږلو چې هغه بوټے
ئې وخوړلو. بیا خدائ یوه ګرمه او تېزه هوا تیاره کړه چې
یونس ئې وسوزولو. تر دې پورې چې هغهٔ سوچ کولو چې
مړ به شی. په دې یونس نور هم غصه کښې شو.




بیا خدایٔ یونس ته ووئیل، تهٔ په دې بوټی
دومره غمګین شوې، اګر چې تا د دې دپاره
څهٔ نهٔ دی کړی او نهٔ دې غټ کړے
دے. دا په یوه شپه کښې زرغون
شو او په یوه
شپه کښې
اوچ شو.



خو په نینوه کښې د یو سل او شلو زره نه
زیات خلق اوسیږی څوک چې په ښهٔ او بد
نهٔ پوهیږی، او ورسره ډېر ځناور
هم دی. ولې ما ته دا نهٔ دی پکار
چې زهٔ په دغه
غټ ښار
رحم وکړم؟

# یونس او غټ کب

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصئ

شته دے

یونس

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ۔"

زبور 130:119

ختم شو

26

60

دا قیصۍ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوي چې چا
مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر غلط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وايي.
د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوي نو ځکه هغۀ خپل
یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمي او په
سولۍ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته
لاړو. کۀ تۀ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغۀ نه د خپلو ګناهونو بخښنه
غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به
استوګنه کوی او تۀ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کۀ تۀ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زۀ
ایمان لرم چې هم تۀ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ
شوې او اوس تۀ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما
ګناهونه وبخښه، چې زۀ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم.
زما مدد وکړه چې زۀ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲